# 6 . په بریتانیا کې ژوند کول

## مدغم کیدل

دغه برخه له تاسو سره مرسته کوي چې بریتانیایي ټولنه کې ورګډ او بلد شی او خپلواکه ژوند وکړئ.

### ښه اخلاق

په بریتانیا کې خلک په عامه توګه نرم خویه دي، په خاصه توګه د نابلده خلکو سره نرم خویه دي. په بریتانیا کې دا رواج ده کله چې د چا له مخې تېرېږئ ورته وایی 'بخښنه غواړم، که چېرې د چا نه کوم شئ غواړئ ورته وایی چې 'مهرباني وکړئ'، که په کومه خبره پوه نه شئ یا خبره وا نه ورئ 'اوبخښئ' ورته وایئ او که څوک یو شی درکړي تاسي په بدل کې ورته 'مننه' وایئ.
که چیرې د کوم کار لپاره نوبت په کار وي لکه په دوکان کې یا بس ته د ختلو په وخت کې، خلک په قطار ودرېږي. بعضې خلک، په خاصه توګه ښځې، دا نه خوښوي چې بیګانه خلک ورته په ځیر وګوري. البته، که د چا سره خبرې کوئ، هغوی ته سترګو په سترګو کتل ادب ګڼل کیږي.

### وخت مراعت کول

خلک عموم کې هر کار په وخت کوي. که چېرې ستاسې ملاقات د سهار په 11 بجو وي، تاسي باید په 11 بجو حاضر شئ. که چېرې په تاسو ناوخته کېږي، دا د ادب نښه ده چې وار د مخې مقابل شخص ته خبر ورکړئ او ناوختیدو دلیل ورته اووایئ. که چېرې د ډاکټر یا بانک ملاقات ته مو ناوخته کړو، شاید خپل نوبت د لاسه ورکړئ.

### برابري

بریتانیا داسي قوانین لري چې د خلکو سره بدون د هغوی نژاد، کلتور، جنسیت، معلولیت، دین، عقاید، جنسي میلان او عمر ته په کتو ښه او مساوي چلند تضمین کوي. همنجس ګرایي قانوني ده او عیب نه ګڼل کېږي. داسي قوانین وجود لري چې د ماشومانو حقوق تضمین کوي او د معلولیت لرونکو په خلاف د تبعیض مخه نیسي. د خپل نظر اظهار ته خلک هڅول کېږي.

که چېرې تاسو کله هم داسې احساس وکړچې له تاسو او یا د ستاسي کورنی سره تبعیض کېږي، خپل د ټولنیز چارو حمایوي آمر سره خبرې وکړئ.

### ډیموکراسي اود بیان آزادي

خلک آزاد دي چې سیاسي ګوندونو کې شامل شي او یا رایه ورته ورکړي. ژورنالستان آزاد دي چې ددوی په راپورونو کی معلومات حقیقت لری ځېرنه وکړي او په آزاده توګه بدون د افترا د هرشي په هکله راپور نشر کړي. اکثریته خلک په پخه توګه د قانون تابع دي او د قانون احترام کوي، او په عین حال کې په آزاده توګه خپل نظرونه هم څرګندوي.

### هغه کارونه چې بریتانیا کې غیر قانوني دي

- **نژادي ځورونه**

  دا غیر قانوني ده چې څوک د ستاسي نژاد، مذهبي عقایدو، ژبې، رنګ یا قوم له وجې تاسو تهدید کړي، ورټی، توهین او یا له تاسو سره په نامناسبه توګه چلند وکړي. که چېرې تاسي د نژادي ځورونې قرباني یاست، پولیسو ته خبر ورکړئ. که چېرې تاسي په خپله پولیسو ته خبر نه شی ورکولای، تاسي یو داسي کس یا سرویس ته چې تاسي پرې باور لرئ خبر ورکولای شئ تر څو هغوی د ستاسو له طرفه شکایت ثبت کړي.
- **جنسي ځورونه**

جنسي ځورونه او تیری د نارینه و او ښځو په مقابل کې غیر قانوني دي. جنسي ځورونه د خوښې خلاف یا نه رضایت ته ویل کېږي لکه جنسي ویناوي، کتل او نږدی کیدل د بل کس خواته جنسي ځورنه بلل کېږي.
جنسي تیری هر ډول فزیکي یا جسماني عمل ته ویل کېږي چې د یو چا د اجازې یا خوښې پرته په هغه اجرا کېږي او باید په عاجل ډول پولیسو ته خبر ورکړل شي. که چېرې داسي پېښه په مکتب کې ستاسي ماشوم ته پېښه شي هغوی وهڅوئ چې معلم ته شکایت وکړي. تاسو په خپله هم باید د معلم یا سرمعلم سره خبرې وکړئ.

# 6 . په بریتانیا کې ژوند کول

- **قصداً ماشومانو ته زیان رسول**

هر ډول فزیکي برخورد چې د ماشوم په بدن نشان، شین والی یا د پوستکي ګرېدو باعث وګرځي غیر قانوني ده او ډیرجدي بلل کیږی. د ماشومانو والدین یا ساتونکي باید په دې وپوهیږي که چېرې دوی ماشوم ته د وهلو له لارې زیان ورسوي، دوی قانون ماتوي او کیدای شی چې قانوني چلند ورسره وشي.

- **18 کلنی کم عمرو باندې سګریټ خرڅول**

د 18 کلنو کم عمر کسانو باندې سګریټ یا تمباکو خرڅول غیرقانوني دي، که څه هم د 16 کلونو پورته کسان سګریټ څکولای شي.

- **18 کلنی کم عمرو باندې شراب خرڅول**

که چېرته تاسي 18 کلن او یا هم پورته اوسئ (باید خپل عمر ثابت کړئ) تاسي په قانوني توګه شراب اخېستلای او څښلی شئ که ولې په عامه ځایونو کې د حد نه زیاتی نشې په حالت کې تاسي د پولیسو له خوا نیول کېدلای شئ. که څه هم تاسي تر 18 کلنی پورې شراب نه شی اخیستلای، ولې د مشرانو په شتون کې تاسي د 16 یا 17 کلو په عمر کې شراب څښلای شئ. تاسي بیئر، واین او سایډر د ډوډی سره څښلای شي (ولې اخیستلای یې نه شئ).

- **د مخدره موادو استعمال او یا خرڅول**

بدون له نسخې دوا یا مخدره مواد چې بریتانیا کې غیر قانوني دي په درې برخو ویشل شوي دي (الف، ب، ج) چې د هر یو ساتل او خرڅول مختلف ډول جزا لري. د مخدره موادو له جملې عام یې ایکسټیسي، ال اس ډي، هیروئین، کوکاین، کریک، جادویي سماروق، امفیټاماین او چرس دي.

- **بخششي او رشوت**

ماموریت لرونکي کس لکه د پولیسو افسر یا د کونسل مامور ته بخششي ورکول د منلو نه ده. په دی کار د رشوت ګمان کېدلای شي او غیر قانوني ده.

- **کورنی تاوتریخوالی او بد چلند**

په بریتانیا کې د کورنی یا ملګرو له خوا له تاسو سره هر ډول تاوتریخوالی غیر قانوني ده. دا کېدلای شي چې فزیکي، عاطفي یا رواني بدچلند واوسي او د بد چلند په هکله شکایت کولو کې هېڅ شرم نشته که چېرې هغه د تاسو سره کېږي او یا هم ستاسو خواشا د بل چا سره کېږي. له هغو کسانو سره چی د کورني تاوتریخوالي سره مخ دی د مرستی لپاره خاص سازمانونه وجود لري. دا هم امکان لري چي پولیس ته له ورتګ څخه پرته د خوروني یا کورني تاوتریخوالي شکایت ثبت کړئ. تاسي د جرم راپور مستقیماً کومک کوونکي اداري ته ورکولای شئ.

**کورني تاوتریخوالي ملي تیلیفون (24 ساعته فعاله وي)**
تیلیفون شمېره: 0808 2000247

**ښځو سره د کورني تاوتریخوالي کومک تیلیفون (24 ساعته فعاله وي)**
تیلیفون شمېره: 0808 2000 247

**د مهاجرینو کورني تاوتریخوالي تیلیفون (24 ساعته فعاله وي)**
تیلیفون شمېره: 0870 599 5443

که تاسو د خطر احساس کوئ، بدون له وېرې پولیسو ته په ۹۹۹شمیری زنګ اووهئ:

## نور کومک

**د مهاجرینو او پناه غوښتونکو سره مرسته**

په اکسفورډ شیر کې داسي سازمانونه شته چې د مهاجرینو او پناه غوښتونکو سره مرستی کوي. دا کومک په مختلف ډولونو کېدلای شي لکه د کار موندني برخه کې، د تریننګ په برخه کې، حمایوي ګروپونو په صورت کې او د مشورو په بڼه، همدا شان عملي مرستی که چیرته تاسو بایسیکل یا لپ ټاپ ته اړتیا لري.

Vale of White Horse District Council

# 6 . په بریتانیا کې ژوند کول

**پناه غوښتونکو ښه راغلاست یا اسایلم ویلکم**
پناه غوښتونکوته د ښه راغلاست یا اسایلم ویلکم هغه پناه غوښتونکو، مهاجرینو او آسیب پذیره کډوالو ته چې په اکسفورډ شیر کې اوسېږي معلومات، مشورې او عملي مرستې ورکوي. دوی د بالغو، ځوانانو او کورنیو سره کومک کوي چې زمونږ د متنوع ټولنې د برخې په حیث د امن احساس وکړي، په عزت کې ژوند وکړي او درک شي.
7 یونټ، نیوټیک پلیس، مګډلن واټ، اکسفورډ، OX4 1RI
07784 300683 واټس اپ – 01865 722082 – advice@asylum-welcome.org

**مهاجرینو منابع یا ریفیوجي ریسورس**
مهاجرینو منابع یا ریفیوجي ریسورس د پناه غوښتونکو، مهاجرینو او آسیب پذیره کډوالو سره رواني، ټولنیز او عملي کومکونه کوي تر څو د هغوی کړاوونو مداوا وشي، او د اکسفورډ شیر متنوع ټولنې غړي په صفت نوی ژوند جوړ کړي.
د موسیقی پخوانی تالار، 106 – 108 کاولي واټ، اکسفورډ، OX4 1JI
0845 458 0055 / 01865 403280 – info@refugeeresource.org

## لمونځ او دین / مذهب

بریتانیا یو کثیرالفرهنګي او کثیرالعقیدوي مملکت ده چېرته چې د ټولو ادیانو او عقایدو عزت کېږي. هغوی چې مسلمان دي متعدده انتخابونه لري. په اکسفورډشیر کې اکثره جوماتونه په اکسفورډ ښار کې موقعیت لري چې د عامه ټرانسپورټ له لارې ورته تګ راتګ کولای شئ.

**د ابینګډن مسلمانان**
قرآن او تجوید درسونه، ښځینه ډلې، نارینه ډلې، د ماشومانو میاشتیني ټولنیزې چارې. د جمعې لمونځ د کلي په تالار کې ادا کېږي.
ربډلي کلي تالار، ګوزایکر، ابینګډن، OX14 3BL
info@abingdonmuslims.org – 01235 604 533 – www.abingdonmuslims.org

**ډیډکاټ مسلمانانو ټولنه (سونیان)**
د جمعې لمونځ په تالار کې ادا کېږي.
فلیټ میډو ټولني تالار، سینډرینګم واټ، ډیډکاټ، OX11 8TP
admin@didcotmasjid.co.uk – 01235 511985 – www.didcotmasjid.co.uk

**مرکزي اکسفورډ مسجد (سوفیان)**
منزل وې، اکسفورډ، اواکس4 1ډي جي
info@coms.org.uk – 01865 245 547

**مدینه مسجد (سونیان)**
2 سټینلي واټ، اکسفورډ، OX4 1QZ
info@MadinaMasjidOxford.co.uk – 01865 366200

**اهل بیت سنټر (شیعه ګان)**
1 اکسفورډ واټ، اکسفورډ، OX4 2EN
info@ahlulbaytcentreoxford.org – 07881 295943

**سویډن مسجد**
124 – 125 براډ کوڅه، سویډن، DN1 2DR
www.swindonmasjid.com – 01793 523831

## ملي رخصتۍ او جشنونه

**بانکي رخصتۍ:** دا ملي رخصتۍ دي چې اکثریته کاروبارونه او خدمات بند وي. دا د کریسمس، نوي کال، ایسټر او د مئ او اګست په میاشتو کې وي. کله نا کله دا په نورو وختونو کی هم وی چی ملی جشنونه پکی لمانځل کیږی. دا اکثره د دوشنبې یا جمعې په ورځو وي. تاسې هر کله چې اوغواړی د بانکي رخصتیو په هکله معلومات دلته ترلاسه کولای شئ: www.gov.uk/bank-holidays

**کریسمس – 25 ډیسامبر:** په دوديزه توګه دا د عیسی مسیح د زیږون لمانځل دي، کریسمس په پراخه توګه د کورنیو سره په وخت تېرونه او د ډالیو په راکړه ورکړه لمانځل کېږي.

**ایسټر** – د مارچ او اپریل تر منځ یوه ورځ ده: د عیسی مسیح دوباره ژوندي کېدل لمانځي. خلک کورنیو ته د چاکلیټو هګیو په ورکولو سره دا ورځ لمانځي.

**نور ديني/مذهبي جشنونه:** د اختر، دیوالي او هنوکا په څېر جشنونه د هغو خلکو له خوا لمانځل کېږي چې په خپله یې لمانځل غواړي او د ټولنې له خوا ورته درناوی کېږي.

**نوي کال شپه – 31 ډیسامبر:** خلک ډېری وخت د نوي کال پیل د میلو او نیمې شپې ته د معکوس حساب په کولو سره لمانځي.

**ولنټاین یا د مینانو ورځ – 14 فبروري:** خلک د مینې او الفت سره تړلې دا ورځ د هغو سره چې دوی مینه ورسره لري د کارتونو او ډالیو په ورکړه لمانځي.

**هالووین – 31 اکټوبر:** ماشومان په ډاروونکو لباسونو او څېرو ځانونه سنګار کړي او د 'ټرېک که تحفی' لپاره روان شي چېرته چې دوی د ګاونډیانو دروازې وهلو سره ورته وایی چی 'ټرېک که تحفی'. ماشومانو ته د کور څښتنان بیا خواږه ورکوي.

**ګای فاکز شپه/د لوی اور شپه – 5 نوامبر:** دا د ګای فاکز په یاد لمانځل کېږي کله چې هغه هڅه وکړه چی د پارلمان ودانی والوځوي او ناکام شو. دا په اورلوبو یا پټاقیو او لوی اور روښانه کولو سره لمانځل کېږي.




## ځایي معلومات – شري وینحام او واچفیلډ

### اکسفورډ شیر چېرته واقع ده؟

اکسفورډ شیر د انګلستان په جنوب شرق کې یوه ولایت ده. تر ټولو لوی ښار یې اکسفورډ ده، چې د خپل مشهور پوهنتون لپاره پېژندل کېږي.

### تاسې به چېرته ژوند کوئ؟

ستاسې نوې کور به ویل آف وایټ هارس کې واقع وي، چې د اکسفورډشیر یوه ولسوالي ده او د لویو شنو ساحو او کلیوالي ساحو لپاره مشهوره ده. د ویل آف وایټ هارس مهم ښارګوټي یې ابینګډن، وانټج او فرنګډن دي.
د اټکل مطابق 126،700 شمېر خلک ویل آف وایټ هارس ناحیې کې ژوند کوي.



# 6 . په بریتانیا کې ژوند کول

## د سیمی معلومات او مهمي شمېرې

**خوراکه فروشي –** یو کوچنی دوکان ده چي خوراکي توکي او د کور اړتیا وړ شیان خرڅوي.
- خوراکي توکو کوپراتیف – میجرز روډ، واچ فیلډ، سویندن SN6 8TQ
- ون سټاپ - 39 های ستریت، شري وینم SN6 8BN

**سوپر مارکېټ -** د خوراکي توکو لوی دوکان
- ازدا- اوربیتل شاپنگ پارک، تیمس داون درایف، سویندن، SN25 4BG
- سینسبریز – اکسفورډ واټ، سویندن SN1 3AD
- الدي – دروف روډ، سویندنSN1 3AD
- ویت روز، یونیت۱، هینري بلک وی، فرینگدن، SN7 7GQ

**حلال سوپرمارکېټ -** تازه میوی اوترکاری، مصالحی او غوښی.
- شاه جلال خوراکه فروشي لمیتد- 64 برود ستریت، سویندن، SN1 2DX

**درملتون –** د ډاکتر له نسخي پرته دوا
- شري وینم دواخانه – 50اې هایي کوڅه، شري وینم، سوېنډن SN6 8AA

**ډاکټر معاینه خانه –** تکړه ډاکټران دي چي د غیر عاجله پېښو سره کومک کوي (د معاینې دمخه نوبت اخیستل په کار ده)
- ایلم ټري معاینه خانه – هایي کوڅه، شري وینم، سویندن SN6 8AG

**غاښونو ډاکټر –** هر ډول غاښونو تداوي لپاره (معاینې د مخه نوبت اخیستل په کار ده)
- سمایل ډېنټل کئیر، ایلډین طبي سنټر، ایلډین داکتر، سویندن، SN3 3RZ

**سترګو دید او غوږونو معاینې**
- سپیک سیورز- سټراټون، آکسفورډ روډ، سوینډن، SN3 4EW

**د حادثاتو او عاجلو پېښو شفاخانه –** په عاجله پېښو کی سم دستي روغتیایي خدمات وړاندی کوي.
- ګرېټ وېسټرن شفاخاني حادثات او عاجلې پېښي – ګرېټ وېسټرن شفاخانه، کوټ سایډ وې، سویندن SN3 6BN

**وړو زخمونو یونټ –** د غیر عاجله زخمونو تداوی مرکز
- ګرېټ ویسټرن شفاخاني عاجل تداوي مرکز – ګریټ ویسټرن شفاخانه، کوټ سایډ وې، سوېنډن، SN3 6BB. د سهار له 7 بجو تر شپې 10 بجو فعاله وي

# 6 . په بریتانیا کې ژوند کول


## سفرکول

**د بس تم ځای** – چېرته د محلي بس سروېس پیدا کولای شئ ( د یوکس کرایه اوس مهال 2 پونډه ټاکل شوی). د بس لارې او وختونه په آنلاین ډول وګورئ.
www.stagecoachbus.com/routes/west/s6/faringdon-swindon/xsas006.i

- هایي سټریټ معاینه خانه، شري وینم تر سوینډن بس اډه – S6 ګولډ – هر 20 دقیقې بعد راځي
- نظامي کالج، واچ فیلډ تر سوینډن بس اډه – S6 ګولډ – هر 20 دقیقې بعد راځي




شري وینم بس اډه/ایستګاه




واچ فیلډ بس اډه/ایستګاه

**ټکسي شرکت** – له خپل کورڅخه تر منزله مو رسوي، چې شامل د:

- فرینګډن موټرې – 01367 243838
- د نورو ټکسي شرکتونو لپاره، د تامسن محلي رهنما کتاب ته مراجعه وکړئ:
www.thomsonlocal.com/search/taxis/shrivenham-wiltshire

**ریل ګاډي**

- سوینډن ریل ګاډي اډه، سټیشن واټ، سوینډن SN1 1DQ

# په ویل آف وایټ هارس کې د چکر ځایونه او ساعت تېرولو کارونه

### کتابخاني

په وړیا توګه د کتابونو، کمپیوټرونو او انټرنېټ څخه کار واخلئ. بعضې کتابخانې د ماشومانو او کورنیو لپاره وړیا د نوآوری صنفونه جوړوي. کتابخانې عموماً له دوشنبې تر شنبې فعاله وي. تاسې خپله ځایي کتابخانه په دغه لینک کې موندلای شئ:

www.oxfordshire.gov.uk/residents/leisure-and-culture/libraries/find-library

**تاسې ته تر ټولو نږدې کتابخانه سوینډن سنټرل ده –** ریجنټ سرکس، سوینډن SN1 1QG

### د ساعت تیرۍ مرکزونه او د لامبو حوضونه

ویل آف وایټ هارس کې مونږ درې د ساعت تېرۍ مرکزونه لرو او یو میداني موسمي حوض لرو. لاندې اوګورئ چې کوم مرکزونه تاسې ته نږدې دي.

**د فرینګډن ساعت تیرۍ مرکز**

پته: فرنم واټ، فرینګډن، اکسفورډ شیر SN7 7LB

تیلیفون: 01367 241755

جیم، لامبو وهنې حوض اود اندام جوړولو صنفونه لري. که چېرې تاسې  یونیورسل کرېډېټ اخلی د غړي توب لپاره د تخفیف غوښتنه کولای شئ.

**وانټېج تفریحي مرکز**

پته: پورټ وې، وانټېج اواکس OX12 9BY

تیلیفون: 01235 766201

جیم، لامبو وهنې حوض اود  اندام جوړولو صنفونه لري. که چېرې تاسې د یونیورسل کرېډېټ غړي یاست د غړیتوب لپاره د تخفیف غوښتنه کولای شئ.

**ابینګدن میداني حوض او سپلش پد**

پته: 1 ابي کلوز، ابینګدن، OX14 3ZBد تیلفون شمیره: 01235 529321. ابي میدو میداني حوض د اوړي په موسم کې خلاصیږي. ددی لپاره چی د ګرمي په موسم کې ناامیده نشی تاسو باید د وخته ځانته ځای ونیسی. د تازه معلوماتو لپاره زمونږ ویب سایټ ته مراجعه وکړی:  whitehorsedc.gov.uk/abbeymeadow



د ابینګدن میداني حوض

Vale of White Horse District Council

# 6 . په بریتانیا کې ژوند کول

**وایټ هارس ساعت تېرۍ او ټېنس مرکز**
پته: آډ لېټ ډرایو، ابېنګډن، OX14 3PJ
تیلیفون: 01235 540700
ورزشي کلوپ، لامبو وهني حوض اود اندام جوړولو صنفونه لري. که چېرې تاسي د یونیورسل کرېډېټ اخلی د غړیتوب لپاره د تخفیف غوښتنه کولای شئ.

## نور جذاب ځایونه

**دي بیکان**
پورټ وې، وانټج اکسفورډ شیر OX12 9BX
01235 763456
دي بیکن، د ځایي ټولنې خوشالۍ او اشتراک لپاره دوامداره پروګرام له لارې صنفونه، ژوندۍ موسیقي، تیاتر، ډراپ ان ګروپز او فلمونه ننداري ته وړاندې کوي.

**یوموف**
یوموف په ټوله ولایت کې وړیا یا ارزانه تفریحي فعالیتونه کورنیو ته وړاندې کوي. ډېر خوندور کارونه لري چې د مکتب په رخصتیو او یا هم د هفتې په رخصتیو کې ورڅخه په ګډه خوند اخیستلای شئ. د نورو معلوماتو لپاره زمونږ د کونسل ویب سایټ اوګورئ:
www.whitehorsedc.gov.uk/youmove

تاسو همدارنګه کولای شئ چې د فعاله ټولنو ډلې سره له لاندې لارو مخامخ اړیکه ونیسی:
تیلیفون: 01235 422240
ایمیل: active.communities@southandvale.gov.uk

مهرباني وکړئ د تازه فعالیتونو یا نندارو د لست په هکله د ویل آف وایټ هارس ولسوالي کونسل ویب سایټ اوګورئ:
www.whitehorsedc.gov.uk/find-activities-to-suit-you
او
**فیمیلیز آکسفورډشیر** مزیداره ننداري او ځایونه د کتلو لپاره لري، تاسي ته ډېر معلومات او د کورنیو لپاره د کړنې ډېر څه لري. ددې لپاره چې د کورنیود ژوند دلا ښه تېریدو په خاطر هغوی ستاسو سیمې ته غوره وړاندیزونه، ننداري او معلومات وړاندې کوي.
www.familiesonline.co.uk/families-magazines/families-oxfordshire-magazine

**د ابي باغونه او ابي چمنونه**
د پارک پوستي کوډ OX14 3JE ده.
ښکلي اجتماعی باغونه سره د لوبو ځایونو لري. په اوړي کې میداني حوض او سپلاش پېډ ته ورتللای شئ. باغونه د ټېمس سیند تر څنګ واقع دي او تاسي د نهر په غاړه پیاده قدم وهلی شئ.
ابي باغونه د ابینګډن ښارګوټي مرکز او ابي کلوز ته نژدی واقع دي.

**د ویل او ډاون لینډ موزیم**
کلیسا کوڅه، وانټج، اکسفورډشیر OX12 8BL
01235 771447
د وېل او ډاون لینډ موزیم د بریتانیا اکسفورډشیر وانټج ښارګوټي بیروبار نه ډک مارکېټ کې واقع ده. په موزیم کې مختلف بخشونه لکه د وېل آف وایټ هارس سیمې کلتوري میراث تشریح ګالری، د یو ښکلي باغ او څېر یا سایه بان لرونکي کافه موجود دي. دا د ځایي اوسېدونکو او چکر وهونکو لپاره مرکزي حیثیت هم لري تر څو له دغه ځایه د وانټج اطرافي ساحو خوند واخلي او ستاینه یې وکړي.

# 6 . په بریتانیا کې ژوند کول

**وایټ هارس (سپین اسپ) تپه اوفنګټن**
SN7 7UK
مشهوره سپین اسپ د بریتانیا په یوه تپه کې تر ټولو پخوانۍ د تباشیرو جوړه شوې څېره ده، شاید د 3000 کالو هم زیات لرغوني وي. هغې ته نږدې د اژدها تپه، چې یوه طبیعي 10 متره لوړه غونډۍ ده، د سېنټ جارج افسانې سره د تړاو په پار نومول شوې ده.



**کورن ستون هنری مرکز**
25 ستیشن سړک، دیکات آکسفوردشیر، OX11 7NE
01235 515144
دکورنر ستون هنری مرکز په لوړه کچه د ژوندي اجراآتو پروګرامونه، فعالیتونه او داسي نور ننداری ته وړاندي کوی. ددوئ ویب سایت ته مراجعه وکړی: www.cornerstone-arts.org

په آکسفوردشیر کی د کړنو لپاره ډیرڅه مموجودی، ډیر یی په وړیا توګه په لاسرس کی دي. د نورو معلوماتو لپاره د آکسفوردشیر تجربی ویب سایت څخه لیدنه وکړی: www.experienceoxfordshire.org

تاسو د آکسفورد او سویندن سره په نژدی فاصله کی اوسیږی.

- د جذابو ځایونود معلوماتو لپاره د آکسفورد ښار دکونسل ویب سایت څخه لیدنه وکړی: oxfordcity.co.uk/explore-oxford/travel-and-tourism
- دجذابو ځایونو او مناسبتونو په هکله د نورو معلوماتو لپاره د ویزیت سویندن ویب سایت څخه لیدنه وکړی: visitswindon.org.uk

ټول معلومات د 2023 کال تر جون پوري سم دي.